# د هغو ماشومانو لپاره د انتظار د مودې په اړه معلومات، چې عمرونه يې له ۱۸ کالو ټيټ دي، د پناه غوښتنه يې کړې ده او په ناروې کې له مور او پلار پرته ژوند کوي

## د اسمهال لپاره د کډوالو د چارو اداره (UDI) له کومو کسانو سره د پناه غوښتنې مرکې ترسره کوي او ځوابونه ورکوي؟

د کډوالو د چارو اداره (UDI) به په پرله پسې ډول له هغو بې سرپرسته کم عمره (زيرسن) کسانو سره مرکې ترسره کړي چې د پناه غوښتنه کوي. که ستاسو قضيه د اروپايي اتحاديې د پناه غوښتنې او کډوالی د مديريت له کړنلارې (AMMR) سره تړاو ولري، نو کيدای شي څو مياشتې وخت ونيسي تر څو روښانه شي چې ستاسو د پناه غوښتنې غوښتنليک به په ناروې کې څېړل کيږي، که په هغه هېواد کې چې تاسو پکې د ګوتو نښې لرئ.

که چيرې له مرکې وروسته اړتيا نه وي چې د کډوالو د چارو اداره ستاسو د قضيې په تړاو نورې څېړنې ترسره کړي، نو موږ به تر خپلې وسې پورې ژر تر ژره پرېکړه وکړو.

## ځينې کسان ولې له ما څخه مخکې ځواب ترلاسه کوي؟

لومړی هغو کسانو ته ځواب ورکول کيږي چې ډير وخت يې انتظار کړی وي. د ځينو کسانو قضيې او د هغوی د مرکې بهير زيات وخت نيسي. که چيری تاسو د نورو کسانو په پرتله ډير وخت انتظار کوئ، دا په دې معنی نه ده چې موږ ستاسو قضيه هيره کړې ده.  لاندې ځينې لاملونه دي چې ولې د ځينو قضيو څېړنه زيات وخت نيسي:

- که له مرکې وروسته ستاسو د قضيې په اړه لا زياتو څېړنو ته اړتيا وي، کيدای شي ځواب مو وځنډيږي.
- که د کډوالو د چارو اداره (UDI) دا ارزوي چې ستاسو قضيه بايد  د اروپايي ټولنې د پناه غوښتنې او کډوالی د مديريت د کړنلارې د کوم بل غړي هېواد له خوا وڅېړل شي، نو دا بهير وخت نيسي. په دې حالت کې کيدای شي تاسو د نورو په پرتله د مرکې لپاره ډير وخت انتظار وباسئ.
- که د نورو لاملونو له امله له تاسو سره مرکه نه وي ترسره شوې يا مو تر اوسه ځواب نه وي ترلاسه کړی، نو ستاسو وکيل ته به د ځنډ په اړه خبر ورکړل شي.

مونږ پوهيږو چې د اوږدې مودې انتظار کول ستونزمن دي؛ له همدې امله هڅه کوو چې د پناه غوښتنې ټول غوښتنليکونه تر خپل توان پورې ژر تر ژره وڅېړو.

تاسو اړتيا نلرئ چې د دې په اړه د کډوالو د چارو له اداري سره اړيکه ونيسئ چې ايا قضيه مو څېړل شوې ده که نه. موږ ځواب تاسو يا هغه کس ته لېږو چې ستاسو استازيتوب کوي.

## ايا زه کولای شم داسې څه وکړم چې د انتظار موده مې لنډه شي؟

تاسو کولای شئ د خپل هويت اړوند اسناد ژر تر ژره موږ ته وسپارئ.

- که د هويت اصلي اسناد لرئ، بايد هغه د خپلې سيمې پوليسو ته وسپارئ. د اسنادو د سپارلو پر مهال کولای شئ له خپل سرپرست څخه مرسته وغواړئ.
- که د اسنادو فوتوکاپي يا عکسونه لرئ، نو هغه مرکې ته له ځانه سره راوړئ، يا يې د کډوالو د چارو اداري (UDI) ته په لاندې پته واستوئ:

Utlendingsdirektoratet (UDI)
Postboks 2098 Vika
0125 Oslo

مه هیروئ چې په اسنادو کې د دوف (DUF) شمېره ولیکئ. ستاسو سرپرست به په دې برخه کې له تاسو سره مرسته وکړي.

## د معلوماتو تازه کول

د انتظار د مودې په اړه معلومات د ۲۰۲۶ کال د جون له میاشتې څخه د اعتبار وړ دي.

یاد معلومات به د ۲۰۲۶ کال د دسمبر د میاشتې په نیمایي کې، یا هغه مهال تازه شي چې د پام وړ بدلونونه پکې راشي.